**مطبوعاتي اعلاميه**

**د لبنان د فنيديق له ښاروالۍ مننه**

**اې کينه ګرو، په خپل قهر او نفرت کې ومرئ!**



**(ژباړه)**

د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۲۵مه د فنيديق ښاروالۍ د القموعه په رستورانتونو او نورو عامه ځايونو کې د شرابو او نورو الکولي موادو د پلور او څښلو د منع پرېکړه وکړه او د ښاروالۍ پوليسو ته يې امر وکړ، چې د دغې پرېکړې په پلي کولو کې ناغېږي ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ځينو اسلام ضد رسنيو او حزبونو د فنيديق ښاروالۍ دا پرېکړه ، د يوبل منلو د ژوند مخالفه پرېکړه وبلله او هغه يې مذهبي تعصب وباله. خو له بده مرغه دوی د اسلام پر وړاندې له تعصب او نژاد پرستۍ بې خبره او د هغه اسلامي شريعت له تطبيق څخه نفرت کوي، چې د لبنان په ګډون پر اسلامي نړۍ يې ۱۳۰۰کاله حاکميت وکړ. دغه راز دوی خپلې ناقانونۍ، نژاد پرستي او ناانساني پرېکړې نه ويني، چې بحري سواحلو ته د باحجابه ښځو تګ منع کوي او د لبنان په ځينو سيمو کې د شام بې ځايه شوي، ژوند کولو ته نه پرېږدي او پر سړکونو يې د ګرځېدلو په منع سترګې پټوي.

نور د اسلام او اسلامپالو پر وړاندې تعصب، نژاد پرستي او کرکه اچونه بس ده. ځانونه د اسلام حاکميت ته تيار کړئ، او په اسلام کې ژوند وکړئ او په ژوند کې مو د اسلام له پلي کېدو خوند واخلئ. لکه څنګه چې مو نيکونو په اسلام کې ژوند کاوه او له پلي کېدو يې خوند اخيست. ډاډه اوسئ چې الله سبحانه وتعالی به يې خپل دين ډېر ژر حاکم کړي.

موږ د داسې نوښت او پرېکړې له کبله د فنيديق له ښاروال څخه مننه کوو او نور په ځانګړې توګه د ترېپولي، صيدا او بيروت ښاروالان دعوتوو، چې د دغسې نافرمانيو او چټليو مخه ونيسي.

**شيخ ډاکټر محمد ابراهيم**

**د حزب التحرير ـولايه لبنان د مطبوعاتي دفتر ريس**

**د صدور ګڼه: H. T. L 1440/08**

**1440هق د جمادی الاول 24مه**

**2019م د جنوري 30مه**